(١)

**د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګواهي پخپلو يارانو او اصحابو باندي او د هغوي د فضيلت او غوره والی بيانول او هغه درسونه چې د هغوی نه مونږ کولای شو ګټه واخلو**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل كتاب كي فرمايلي: «وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ» ژباړه:« هغه مهاجرين او انصار چي تر ټولو د مخه د ايمان بلني ته په لبيك ويلو كښي وړاندي شول، دغه راز هغه كسان چي وروسته له نېكۍ او رښتينولۍ سره په هغو پسي راغلل؛ الله له هغو څخه خوښ او هغوی د الله څخه خوښ شول. الله د هغو لپاره داسي باغونه (جنتونه) تيار كړيدي، چي لاندي به يې ويالې بهيږي او هغوی به پكښي د تل لپاره اوسيږي. همدا ډېر لوی برياليتوب دی»، او زه ګواهي وركوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي وركوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی ، درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيكۍ سره د هغه تابعداري كوي.

و بعد:

الله تعالی د خپلو بندګانو څخه هغه كسان رسالت او پيغمبری لپاره غوره كوي چې د هغه خوښه وي او د هغوي فطرت دا وي چه د پاک زړه پاک ذهن نيک طبيعت او د لويو اخلاقو لرونکي وي همداسی اله تعالی د خپلو انبياؤ لپاره هغه څوک غوره كوي چې د هغوي سره د دملګرتيا وړتيا

ولړي او د هغوي د رسالت دفاع وکړي او له هغوي څخه وروسته بیا دغه رسالت په امانتداری صداقت او قرباني سره خلکو ته ورسوي لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي:« اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ »ژباړه:« حقيقت دا دی چې الله (د خپلو فرمانونو لیږلو لپاره) د پرښتو څخه هم پیغام رسوونکي ټاکي او د انسانانو څخه هم. په باوري توګه، الله اورېدونکی او لیدونکی دی.»؛ نو په همدې بنسټ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم یاران پاک زړه لرونکي، پوه، او په امت کې تر ټولو ډیر زیرکمسان وو، دلته د حیرانتیا او تعجب خبره نده، ځکه هغوي هغه خلک دي چې الله تعالی هغوي د خپل د پیغمبر د یاری او د دین د خپراوي او نړیوالو ته د تبلیغ وسیله ګرځولې وو.
په واقعیت کې د پیغمبر د یارانو په هلکه خبری کول د هغه غوره بشریت په هلکه خبري کول دي چې د پیغمبرانو نه وروسته دي، ځکه د عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دي چې فرمايي: پدغه وینا د الله تعالی چې غوره کسان يی برخیره کړي هغه نه مراد د رسول الله صلی الله علیه وسلم یاران او صحابه دي او همداسی د عبدالله ابن مسعود څخه روایت دي چې فرمايي: الله تعالی خپلو بندګانو زړونو ته نظر واچولو، نو د محمد صلی الله علیه وسلم زړه يي ترټولو غوره ولیدو نو هغه يي غوره کړ او هغه يی د خپل رسالت سره د بشر د هدايت او لارښود لپاره ولیږلو، بیا د محمد د زړه نه وروسته خپلو نورو بندګانو زړونو ته نظر واچولو نو د صحابه ؤ زړونه يي غوره ولیدل نو هغوي يي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدافعین وګرځول، نو هر هغه څه چې مسلمانان نیک وګڼي نو هغه د الله تالی په نزد هم نیک دی، او هر هغه څه چې مسلمانان بد وګڼي نو هغه د الله تعالی په نزد هم بد او ناوړه دي( د امام احمد حنبل مسند).
بی له شکه کله چې يو څوک د قرانکريم په هکله تدبر او فکر وکړي نو پدغه حال کي ورته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د صحابه ؤ د مقام او مرتبي لوړوالي او فضلیت څرګندیږي دوی هغه کسان دي چې الله تعالی د

هغوی څخه راضي دی، او د هغوی  په صداقت او ایمان داری باندې ګواهي ورکړی ده لکه چې الله تعالی فرمایی:« لَّقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا»ژباړه:« الله له مؤمنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی له ونې لاندې ستا سره بیعت کاوه. د هغو د زړونو حال هغه ته معلوم دی، لدې امله یې پر هغو ډاډینه نازله کړه او هغو ته یې په انعام کښې نژدې بری ورکړ.» مفسرین وایي:( فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ) یعنی هر هغه څه چې د هغوي په زړونو کې د صبر، صداقت، وفاداری، اوریدل او فرمان وړل او د هغوي نیک نظر د خپل هغه خالق په وړاندی چې هغوي ته یې لاربښونه کړی ده چې وجود لري پکې لیدلی او درک کولای شو.

او الله تعالی د خپل د پیغمبر صحابه د قرانکریم په بیلابیلو ځایونوکې توصیف کړي دي لکه چې فرمایي:« الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِن بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ * الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ * فَانقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ» ژباړه:« کومو کسانو چې (په اُحد کې) له ټپي کېدو څخه وروسته هم د الله او د پیغمبر بلنې ته لبیك وواېه، په هغو کښې چې کوم خلك نېکوکاران او پرهیزګاران دي، د هغو لپاره ستر اجر دی.* هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وویل: "ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شویدي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو یې نور هم ایمان پیاوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چې زموږ لپاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.* په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورینې سره بېرته ستانه شول، هیڅ راز زیان هم ورته ونه رسېدی او د الله له خوښې سره سم یې د تګ کولو مرتبه هم وموندله. الله ډېر ستر لوروونکی دی.» او د الله تعالی دغه وینا د مهاجرینو او انصارو په هکله ده چې فرمایي:« لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ

أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ * وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ» ژباړه:« (همدارنګه دغه مال) د هغو غريبو مهاجرينو لپاره دی، چي له خپلو کورونو او جايدادونو څخه ايستل شويدي. دوی د الله فضل او د هغه رضاء غواړي او د الله او د هغه د پيغمبر بري ته ملاتړلي اوسيږي. همدغه رښتيني خلك دي.* (او دا مالونه د هغو خلکو (انصارو) لپاره هم دي) چي د دغو مهاجرينو له راتګ څخه مخکي يې ايمان راوړی، په دې کور (مدينه منوره) کښي استوګن ول. دوی له هغو خلکو سره مينه کوي چي دوی ته يې هجرت کړی دی؛ او هر څه چي هغو ته ورکړل شي، د هغو څه اړتيا قدري هم دوی پخپلو زړونو کښي نه احساسوي؛ او پر خپل ځان باندي نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقيقت دا دی، کوم خلك چي د خپل زړه له تنګۍ څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکي دي».

همدارنګه داسی نور داسی اياتونه په قرانکريم کې راغلي دي چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم اصحاب يي په ډير غوره نيکو او بهترينو صفاتو سره ستايلي دي، او هداسی ډيری داسی حديثونه هم راغلي چې د هغوي د مقام او ځاي په هکله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په نزد ګواهي ورکوي، او د هغوی ريښتيني عزم او فداکاری رابرڅيره کوي، نو هغوي دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم يی لوړ وګڼلو او ورسره مرسته يی وکړه او د هغه نور څخه يي پيروی وکړه چې د هغه سره رااليږل شوی وو او د هغه مينه يی د خپل ځان ، اهل او د ټولو مينو څخه غوره وګرځوله، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم هغوي ته غوره ډالی ورکړه او په ډيرو لوړو مقامونو يی وستايل؛ او په ډيرو ځايونو کي يي په هغو ګواهی ورکړه لکه چې فرمايي:غوره کسان هغه دي چې زما

په پیړي کې ژوند کوي، بیا هغه چې هغوي ته نژدي دي، او بیا هغه چې هغوي ته نژدي وي.(متفق علیه)، همداسی فرمایي: ستوري د اسمان ارامتیا دي، نو کله چې ستوری ولاړ شي په اسمان هغه څه راځي چې وعده ورکړ شوی ده، او زه د خپلو اصحابو ارمتیا یم، نو هر کله چې زه ولاړ شم نو زما په اصحابو هغه څه راځي چې وعده ورکړ شوی ده، او زما اصحاب زما د امت ارمتیا دي، نو کله چې زما اصحاب ولاړ شي زما پر امت هغه څه راځي چې هغوي سره وعده شوی.(صحیح مسلم)، او فرمایي: تاسو تل په خیر کې اوسیږئ تر هغه پوري چې ستاسو ترمنځ داسی شخص وي چې زه یي لیدلی وسم او ماسره یي خبری کړي وي، قسم په الله تل تاسو په خیر کې اوسیږي تر هغه وخته پوري چې ستاسو ترمنځ داسی شخص وي چې زما اصحاب یی لیدلي وي او د هغه سره یی خبری کړي وي، او قسم په الله تر هغي به په امن کې وسیږي چې ستاسو ترمنځ داسي یو شخص وي چې زما اصحاب یي لیدلي وي او د هغه سره یي خبری کړي وي.(مصنف بن ابي شیبه)، او هغه خلکو غوره والي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اصحابو ښخه وروسته راغلي دي د هغو غوره والی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صحابه ؤ په لیدلو او د هغو سره په وینا باندي دی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل ځیني اصحاب په ځانګړی صفاتو یاد کړي دي ځکه هغوي په فضیلت او غوروالي کې مخکي دي، په ځانګړي توکه اولین او مخکیني د هغو نه، نو فرمایي: زما د امت نه ترټولو مهربان په نورو امتیانو مي ابو بکر دي، او د ډیر قوت والا د خدا د امر په پرځاي کولو کې عمر دي، او ریښتیني حیا لرونکي عثمان او قاضي ترین د هغو نه علي ابن طالب، او زما د امت امین شخص ابو عبیده بن جراح دي، او عالم ترین د امت نه مي چې پرحلال حرام او حرام خه پوهیږي معاذ دی، او زما د امت قاری ابی بن کعب دی او هغه چې په فرضو ښه پوهیږي هغه زید دی.، او په هغه ورځ چې نبي کریم صلی الله

عليه وسلم سره د ابوبکر صديق، عمر فاروق او عثمان ذوالنورين رضي الله عنهم د احد پر غره را ووتل، نو غر د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د اصحابو په ليدو سره د ډير خوشحالي نه ولړزيده، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای احد! ثابت ووسه ځکه پرتا پيغمبر، صديق او دوه شهيده دي.(صحيح بخاري)، او پيغمبر صلى اله عليه وسلم د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنه د مقام په هکله فرمايلي: همداسی د لوړو مرتبووالا اصحاب هغه چې د هغو نه په مرتبه کې ښکته دي داسي ګوري لکه ځلاند ستوري په اسمان کې او ابوبکر او عمر د هغه د لوړو درجو لرونکي اصحابو د جملي څخه دي.(سنن ابن ماجه).
پيمبر صلى الله عليه وسلم ددی حرص درلوده چي د خپلو اصحابو ځای او مرتبه را برڅيره کړي، او د هغوی شرافت او قدرت بيان کړي، تر څو وکړی شي هغوي وهڅوي او هغوي راوينښ کړي ترڅو نورو ته نمونه او مثال پاتي شي نو د ابوبکر صديق رضي الله عنه په هکله فرمايي: ما د خپل د يار او ملګري په هکله مه زوروي، ځکه زه الله تعالی ستاسو د هدايت او په حق دين سره راوليږلم او تاسو وويل چې دروغ وايي، او ابوبکر وويل: رينښتيا وايي، او که خداي هغه ته د صاحب خطاب نه ورکولو نو هغه به مي خليل ګرځولو، او د عمر رضي الله عنه په هکله فرمايي: الله تعالى حق د عمر پر ژبه او زړه کي ايښي دی، او د عثمان رضي الله عنه په هکله وايي: ايا د هغه چا نه چې پرينښتي حيا کوي زه حيا ونکړم، او د علي رضي الله عنه په هکله وايي: ته زما نه او زه ستا څخه يم،(متفق عليه).
په واقعيت کې هغه کسان چې د نبي کريم صلى الله ليه وسلم د احاديثو په هکله تحقيق او تدبر کوي هغوي دا درکوي چې نبي کريم صلى الله عليه يو غوره مثال د وفاداری دوستي او صداقت پريښي دی او تر ټولو نيک خوي به يي خپل اصحابو سره لرلو پداسي ډول سره چې په تاريخ کې د هغه مثال نشو پيدا کولي، او نبي کريم دهغوي درد احساسولو، او پرهغوي

مهربانه وو، د هغوي پوښتنه به يي کوله او د هغو د مريض ليدو ته تللو، د هغو په جنازه کي حاضريدلو، او د هغو دعوت يي قبلولو، په هر کار کي به يی د هغو څخه مشوره غوښتله او هغو سره به يي ډير تواضع رفتار کولو، د هغو پور به يي اداء کولو او د هغو او د هغو د اولادونو لپاره به يي دعاء کوله، د بي بي عايشی رضي الله عنها څخه روايت دی چې فرمايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم په عثمان بن مظعون رضي الله عنه باندی ورداخل شو پداسي حال کي چې هغه وفات شوی وو، نو هغه ته ورښکته شو او هغه يي ښکل کړ، نو وروسته يي دومره وژړل چې اوښکي د مبارک پرخيره جاري شول، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم يو ورځ وروسته له جګړي نه چې د دوي اود مشرکينو ترمنځ رامنځته شوی وه ليدل وکړل او هغو ته يي وويل: ايا څوک له تاسو څخه ورک دی؟ وويل: هو فلان و فلان او فلان شخص، بيا وفرمايل: ايا بل څوک هم له تاسو څخه ورک دی؟ هغو وويل: هو، فلان او فلان او فلان شخص، بيا يي وفرمايل: آيا بل څوک هم ستاسو د جملي څخه ورک دی؟هغو وويل: نه، وی فرمايل: ليکن زه هغه شخص چې يو چپنه يي پر ځان وه ستاسو په منځ کې نه وينم، نو هغه راوغواړی، نو د مړو په منځ کې يي لټه شروع کړه نو هغه يي د هغه اووه کسانو په منځ کې پيدا کړ چې وژل شوي وو، وروسته دښمن هغه ووژلو نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم راغي او ودريدو او وی فرمايل: اووه کسان يی وژلي او هغه نه وروسته هغوي دا وژلی، دا زما دي او زه ددی يم، دا زما دی او زه ددی يم، بيا نبي کريم هغه راپورته کړ او پخپل لاسونو يي هغه په قبر کې کيښود، او وی فرمايل: زه د هر مسلمان د هغه نه د نفس څخه ورته غوره يم، څوک چې پس له مرګه يو څه مال له ځانه پريږدي نو هغه مال د هغه د اهل دی، او هغه شخص چې له ځانه پور پريږدي نو هغه پرما او زما دی.(صحيح مسلم).

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم
*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:

نبي کریم صلي الله علیه وسلم خپل ټول امت ته ددی توصیه کړی چې د هغه صحابه ؤ ته احترام وکړي، او هغو ته بي احترامي کولو او یا د هغو په حق کي د احترام د کمي څخه یی منع کړی او بیان کړی یي دی چې د هغو سره مینه لرل دلیل د میني د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره دی، او د هغوی څخه نفرت دلیل دی پدي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره نفرت ولري څخه نو فرمایلي دي:الله الله زما پر یارانو، زما نه وروسته پر هغوي کار مه لري، نو څوک چې د هغو سره مینه کوي نو په واقعیت کې زما سره مینه لري،او څوک چې د هغو نه کرکه وکړي نو واقعیت کې لما یسره کرکه کوي، او څوک چې هغوي اذیت کړي نو په واقعیت هغوي ما آزاروي او هغه چې ما آزاروي په حقیقت کې هغه الله آزاروي او څوک چې الله ازاروي نو نژدي ده چې د هغوي نه به حساب اخیستل کیږ.ي،(احمد او ترمذي).

او په بل حدیث کې فرمایي:زما صحابه ؤ ته کنځلي مکوئ، نو که چیرته تاسو نه یو څوک د احد دغره په اندازه سره زر هم د الله په لاره کې مصرف کړي نو بیا هم نشي کولاي چې د هغو تر نیمایي پوری هم ځان برابري کړی، او فرمایي: زه الله تعالی غوره کړی یم او ما لره یی زما صحابه غوره کړي نو هغو د جملی څخه ماته وزیران، همکاران او خپلوان یی ګرځولي، نو څوک چې هغوي ته کنځلي وکړي نو پر هغه د

خداي پرېښنتو او ټولو خلکو لعنت او نفرت وي، او د قيامت په ورځ د هغه څخه هيڅ يو عمل نه قبلېږي.
په واقعيت کې که يو څوک د نبي کريم صلی الله عليه وسلم اخلاق او سيرت ته نظر واچوي نو دا به ورته څرګنده شی چي هغوي د لوړی مرتبي او خاص ځاي د خپل اخلاص لرلو سره الله تعالی ته او د ريښتيني مينی لرلو نبی کريم ته او د خپل نفسونو سره په جهاد کولو ، مرسته کولو د حق او حقيقت څخه په دفاع کولو ، د عام ګټو په ترجيح ورکول پخپلو شخصي ګټو باندي او نيک اخلا او نيک رفتار د ټولو خلکو سره ترلاسه کړي دي او دغه مرتبی ته رسيدلي، نو د الله تعالی د ثنا او توصيف مستحق ګرځيدلي، او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مينی اهل او د اعتماد وړ ګرځيدلي، الله تعالی دی دی شاعر ته خير په نصيب کړی چې وايي:
هغوي ترټولو غوره خلک دی نو د هغوي په قدر پوه شه*
او د هغو په لاره او منهج سره رفتار وکړه*
د صحابه ؤ نسل د خلکو د ژوند په طريقو کې او د ظلم او د جهل د تيارو په لمنځه وړلو کې چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د بعثت څخه مخکې ټوله نړیَ ورسره لاس او ګريوان وه ډير لوړ لاس او رول لري، او د ونډد ټول اړخ يي د الهي وحي پرلاربښونو د حق او عدالت او برابری په لوري يي ورګرځوله ، نو پر دی اساس د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د صحابه ؤ سره مينه لرل سنت دی او هغوي ته دعا کول ثواب او الله تعالی ته د نژدی والی سبب ګرځي او د هغو په لاره او لاربښونو تلل د فضيلت او غوره والی لامل ګرځي، الله تعالی پس لدي چې د مهاجرينو او انصارو توصيف کوي فرمايی:« وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ» ژباړه:« (او دا مالونه د هغو کسانو لپاره هم دي) چي له دغو مخکنيو څخه وروسته راغلي دي، هغه

کسان چي وايي: "اې زموږ ربه! موږ او زموږ ټولو هغو ورونو ته ښښنه وکړه، چي زموږ څخه مخکي يې ايمان راوړيدی؛ او زموږ په زړونو کښي د مؤمنانو لپاره هيڅ کينه مه اچوه. اې زموږ ربه! ته ډېر مهربان او رحم کوونکی يې.»، امام رازي رحمه الله فرمايي: هغه کسان چې د مهاجرينو او انصارو څخه وروسته راغلي بايد په دعاء او رحمت کې ياد شي.

نو پردي اساس موږ تأکيد کوو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د صحابه پر منزلت خبری کول او د هغو فضيلت بيانول خپل بچيانو ته د هغو په نفسونو کې د رهبريت او نيکيو مثال رامنځته کيدل د هغو د نفسونو د تقويت لامل ګرځي، ځکه تربيه کول د يو مثال او الګو په راخيستلو سره د يو رهبريت نه د نيک ارزښتونو د سيستم د پياوړي کيدو، نيک اخلاق او مثبت رفتار په ټولنه کې په خاص ډول پر ماشومانو او ځوانانو ډير خه تأثير پر ځاي پريږدي، او زمونږ پرځوانانو دا واجبه ده چې په سم فکر او اعتدال سره د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اصحابو د پيژندلو لپاره هڅه وکړي، او د يو خاص شخصيت لرونکي ووسي ترڅو وکولای شي د رسالت مسؤليت تحمل کړي او امانت اداء کړي او د اسلامي امت کښتي د بريا په لور رهنمايي کړی، ترڅو وکولای شي امت د سرګردانيو نه وژغوري او د بريا پرمختګ امنيت او خوښيو به لور راورسوي او لارښونه ورته وکړي.

نو اي کاش مونږ وکولای شو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اصحابو په منزلت پوه شو او د هغو په اخلاقو اقتداء وکړو او د هغو په څېر رفتار وکړو، او د هغو د سيرت نه د فداکاری، نفقي ، بخښني او د نفس اود مال او اولاد قرباني ورکول د هغو نه زدکړو، او ددغه نړۍ دآبادی او د تمدن د جوړولو او د هيواد او د وګړو د ګټو لپاره د هغو ترشا روان شو ترڅو وکولاي شو د اسلام د تحمل حقيقت ټولو نړيوالو ته بيان کړو.

ربنا اغفر لنا ولإخواننا الذين سبقونا بالإيمان
ولا تجعل في قلوبنا غلا للذين آمنوا ربنا إنك رءوف رحيم.